AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبر برى ۲۰۲۱/۱۲/۱۹

# زه انسان

ما د خپل ورور په وژلو غزا وکړه
خو له نفسه سره زما هیڅ غزا نه شي
ما په زړه کې ټول جهان روڼ ځراغان کړ
خو دا زما د زړه کوټه به رڼا نه شي
ما د خیر لاره ښودلې هر چا ته
خو یو ګام به مې هیڅکله په دا نه شي
ما پروا د خپلې کټې مدام وکړه
خو د بل په ورکېدو مې پروا نه شي
ما له خپلې خودخواهۍ هرڅه بربا د کړه
کوم هغه چې هیڅکله له چا نه شي
زه مدام له نورو شرم او حیا غواړم
خو په خپله مې له هیچا حیا نه شي
زه خپل ځان د ستر خالق خلیفه بولم
کوم هغه چې د خدای پرې رضا نه شي
زه انسان ځان د خلقت د سر تاج بولم
تم به نه شم ځو خلقت وران له ما نه شي
زه همیش د خپلې خوښې پلو ګورم
د چا خوښه که یې خوښه شي یا نه شي
زه یم هغه ځناور د ځناورو
چې به خلاص نه شي هیڅ شی زما له دغرو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ